

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې

د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباډي اوونیزه

هفته نامه آبادی

ګڼه: ۲۹ | مسلسل نمبر: ۱۱۹ | چهارشنبه، د ربیع الاخر ۲۹مه، ۱۴۴۷هـ. ق کال


## د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې له کاري پرمختګ څخه لیدنه وکړه



۲ صفحه

## د تاپي پروژې د چارو پرمخ بیولو کې به افغانانو ته هم د کار زمینه برابره شي



۲مه صفحه

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل فولاد اوسپنې ویلې کولو فابریکې دویم فاز پرانیست




۳مه صفحه



## سرلیکنه

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي او د ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربانقلي بردي محمدوف او ورسره مل پلاوي سره د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې له چارو لیدنه وکړه. محترم ملا صاحب تاپي پروژه د سیمه‌ییزې همکارۍ، اقتصادي یووالي او ګډې سوکالۍ رامنځته کېدو لپاره مهمه وبلله. د ترکمنستان ملي رهبر بیا وویل چې تاپي پروژه به د سیمې په اقتصادي ثبات کې رغنده رول ولوبوي. تاپي پروژه د افغانستان په ګډون د ترکمنستان، هند او پاکستان د طبیعي ګازو ګډه نللیکه ده چې د منځنۍ او سویلي آسیا لپاره ستراتېژیک او اقتصادي ارزښت ګڼل کېږي. تاپي پروژه نه یوازې اقتصادي اړخ لري، بلکې د دې پروژې سیاسي بعد هم د پام وړ دی. تاپي پروژه د خپل ځانګړي جغرافیوي موقعیت له مخې د څلورو هېوادونو، ترکمنستان، افغانستان، پاکستان او هندوستان ترمنځ د همکارۍ او پیوستون زمینه برابروي. دا همکاري په داسې شرایطو کې کیږي چې سیمه د نړیوالو پراختیایي اړیکو پراختیا او د سیاسي لانجو کمولو ته سخته اړتیا لري. له سیاسي اړخه تاپي څلورو واړو هېوادونو ته دا فرصت ورکوي چې په ډیپلوماسۍ او ګډې همکارۍ سره د سیمې امنیت ښه کړي. پر دې سربېره افغانستان د یوه ترانزیټي هېواد په توګه په دغه پروژه کې کلیدي رول لري او دا نه یوازې د دغه هېواد ډیپلوماتیک درېځ پیاوړی کوي، بلکې د سیمې له اوږد مهاله سولې او ثبات سره هم مرسته کوي. د تاپي پروژې دغه ستراتيژيک اهمیت ته په کتو اسلامي امارت له بیا ځلي واکمنېدو سره سم له هر څه وړاندې هغو برخو ته پوره پام وړ واړاوه چې پر مټ یې کولای شي په سیاسي او اقتصادي دواړو برخو کې لاسته راوړنې ولري او له دې لارې وکولای شي، سیاسي او اقتصادي پرمختګونه تضمین کړي. په دې کارونو کې یو هم د تاپي پروژې د بیا پیل هڅې وې چې د افغانستان د اقتصادي پرمختګ او ثبات لپاره حیاتي ارزښت لري. له نیکه مرغه د افغانستان په خاوره کې یې عملي چارې د ۱۴۰۳ لمریز کال د وږي په میاشت کې پیل شوې. اوسمهال یې ۱۴ کیلومتره نللیکه غځیدلې او په پاتې برخه یې هم په چټکۍ سره کار روان دی. له بل لوري تاپي پروژه د انرژۍ د اړتیاوو د پوره کولو په برخه کې د ذیدخلو هېوادونو لپاره زیات ارزښت لري. دا هېوادونه انرژۍ ته زیاته اړتیا لري او د ترکمنستان طبیعي ګاز کولی شي د دوی د بریښنا تولید او صنعتي فعالیتونو لپاره یو باوري او نسبتاً ارزانه سرچینه واوسي. همدارنګه افغانستان به هم د ګازو په ترلاسه کولو سره وکولای شي، د انرژۍ په برخه کې ستونزې لرې او خپل صنعت ته وده ورکړي. د دې ترڅنګ به د تاپي پروژې په عملي کېدو سره، نه یوازې به افغانستان کې د ګازي انرژۍ ستونزه هواره شي، بلکې دا به منځنۍ اسیا هېوادونو ته د یوه اقتصادي دهلیز د پرانیستلو له پاره هم لاره هواره کړي. د دې چارو په ترسره کېدو به نه یوازې افغانستان په سیاسي لحاظ خپل موقف نور هم لوړ کړي، بلکې اقتصادي وده به یې هم ګړندۍ او اقتصاد به یې د خپلواکۍ په لور ګامونه پورته کړي.

# د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال د تاپي پروژې له کاري پرمختګ څخه لیدنه وکړه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اسلامي امارت لوړپوړي پلاوي او د دوست هېواد ترکمنستان ملي رهبر ښاغلي قربانقلي بردي محمدوف او ورسره مل پلاوي د روان ۱۴۰۴ لمریز کال د میزان میاشتي په ۲۸مه نېټه د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې له چارو لیدنه وکړه.

د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال د ترکمنستان له ملي رهبر څخه مننه وکړه چې د تاپي پروژې د عملي چارو لیدنې او په دې برخه کې د لا ډېرې همغږۍ په موخه یې افغانستان ته تشریف راوړی. محترم ملا صاحب تاپي د سیمه‌ییزې همکارۍ، اقتصادي یووالي او ګډې سوکالۍ رامنځته کېدو لپاره مهمه وبلله او ویې ویل، چې اوسمهال یې په افغانستان کې عملي چارو ۱۴ کیلومتره پرمختګ کړی دی. محترم ملا صاحب زیاته کړه، د اسلامي امارت لیدلوری یوازې تر تاپي پروژې محدود نه دی؛ بلکې د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د اقتصادي دهلیز د پراختیا په هدف کار کوي. په دغه دهلیز کې د تاپ - ۵۰۰ بریښنا د انتقال پروژه، د ریل پټلۍ جوړونه، سړکونه او لوجستیکي مرکزونه او نورې اقتصادي پروژې شاملې دي چې اسلامي امارت یې د پلي کېدو، امنیت او دوام لپاره پوره ژمن دی. د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال همداراز پر ترکمنستان او ټولو نړیوالو شریکانو غږ وکړ، چې په افغانستان کې د پانګونې له موجودو فرصتونو ګټه پورته او دلته پانګونه وکړي.

ورپسې د ترکمنستان ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف خبرې وکړې. نوموړي د کابل او عشق اباد اړیکې پیاوړې او د پراختیا په حال کې وبللې او له اسلامي امارت یې مننه وکړه چې د دغه مهمې سیمه ییزې پروژې د تطبیق لپاره یې پوره همکاري وکړه. نوموړي وویل، تاپي پروژه د ترکمن حکومت په لومړیتوبونو کې ده چې د سیمې په اقتصادي ثبات کې به رغنده رول ولوبوي. هغه زیاته کړه، د تاپي پروژې د تطبیق لپاره اوسمهال تر ټولو ښه شرایط برابر شوي او په سیمه کې یوازینۍ پروژه ده چې نړیوال ملاتړ له ځان سره لري.

قربانقلي بردي محمدوف همداراز وویل، ترکمنستان به په خپل ټاکلي وخت د تاپي پروژې چارې بشپړې کړي چې افغانستان به په کلني ډول تر شاوخوا یو میلیارد ډالر عواید ولري. په پای کې محترم ملا عبدالغني برادر اخوند پر ګاونډیو هېوادونو غږ وکړ چې د تقابل او غیر اصولي کړنو پر ځای په متقابل احترام ولاړو اړیکو ته دې مخه وکړي او د هېوادونو ملي حاکمیت، غرور او ملت ته دې په سپکه سترګه نه ګوري.

# د تاپي پروژې د چارو پرمخ بیولو کې به افغانانو ته هم د کار زمینه برابره شي

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د میزان میاشتې په ۲۸مه نېټه د ترکمنستان هېواد له ملي رهبر قربانقلي بردي محمدوف سره وکتل.



د دې لیدنې پرمهال د تاپي پروژې ترڅنګ د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوشمېر نورو اقتصادي پروژو په اړه هم خبرې وشوې.

د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال تاپي د افغانستان، ترکمنستان او سیمې هېوادونو د اقتصاد لپاره مهمه وبلله او له ترکمن لوري یې وغوښتل چې افغانانو ته هم د دې پروژې د چارو پرمخ بیولو کې کاري فرصتونه برابر کړي.

د ترکمنستان ملي رهبر قربان قلي بردي محمدوف وویل، د تاپي پروژې د طرزالعمل مطابق به ډېرو افغانانو ته د کار او مسلکي روزنې زمینه برابره کړي.

هغوی زیاته کړه، د عشق اباد او کابل ترمنځ د اقتصادي اړیکو د پراختیا لپاره د نورو لویو اقتصادي پروژو تطبیق ته هم چمتو دي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

ابادي

د اقتصـــادي او تــولنيزو مسايلـــو په برخـــه كــې
د رياســـت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

## د رياست الوزراء اقتصادي مرستيال د نفت او ګازو په برخه کې د ترکمنستان د کابينې له مرستيال سره وکتل

د رياســـت الـــوزراء اقتصـــادي مرســـتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د روان کال د ميزان مياشـــتې په ۲۸مه نيټه د نفت او ګازو په برخه کې د ترکمنســـتان د کابينې له مرســـتيال باتور امانوف سره وکتل.

د نفـت او ګازو په برخــه کې د ترکمنســـتان د کابينې مرسـتيال د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې د



کاري پرمختګونــو پــه اړه معلومــات شريــک کړل.

نوموړي وويل، اوســمهال د افغانستان په خاوره کې د تاپي پروژې چــارې ۱۴ کيلومتره پرمخ تللي دي او ۷۰ کيلــومتره نوره فاصلــه هم د پايپ غځولــو لپاره چمتو شوې ده.


هغه زياته کړه، د ۳۰ کيلومترو لپاره پايپونه جوړ شــوي چې په راتلونکې مباشــت کې به يې د نصب او غځولو چارې بشپړې شي.

د نوموړي پــه خبره چې د افغانســتان په خاوره کې د تاپي پروژې کارونه په ښــه ډول روان دي او اسلامي امــارت ورته هر ډول اســانتياوې برابرې کړې دي. د نفــت او ګازو پــه برخه کــې د ترکمنســتان د کابينې مرســتيال داهم وويل چې پــه راتلونکي يو کال کې به په افغانســتان کــې ددغه مهمې ســيمه ييزې پروژې چارې بشپړې کړي.

مــحترم ملا صاحب د تاپي پروژې په برخه کې د ترسره شوو کارونو ســتاينه وکړه او د پروژې د چارو پر کيفيت يې ټينګار وکړ.

## محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د کابل فولاد اوســـپنې ويلې کولو فابريکې دويم فاز پرانيست

د رياســت الــوزراء اقتصــادي مرســتيال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ميزان مياشــتې په ۲۸مه نېټه هرات ولايت ته د خپل ســفر پرمهال په هرات صنعتي پارک کې د کابل فولاد اوســپنې ويلې کولو فابريکې د




دويم فاز پرانيسته وکړه.

محترم ملا صاحب وويــل، د اسلامي امارت په راتګ سره ســيمه ييزو او د نړۍ ډېرى هېوادونو له افغانستان سره د اقتصــادي اړيکو د پراختيا لپــاره عملي ګامونه اخيســتي او دا هڅې د لا پراخېدو په حال کې دي.

محترم ملا صاحب زياته کړه، اسلامي امارت د صنعت ودې ته ځانګړې پاملرنه کــړې او په همدې موخه يې پــه کور دننه د برېښــنا توليد او وارداتي برېښــنا لويې پروژې پيل کړې دي.

د رياســت الوزراء اقتصادي مرســتيال پر ټولو پانګوالو غږ وکړ چې په افغانســتان کې پانګونه وکړي، اسلامي امارت د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکوي.

د کابل فولاد اوســپنې ويلې کولو فابريکې په دويم فاز ۲۰ ميليــون ډالر پانګونه شــوې، چې په ورځني ډول د ۵۰۰ټنه اوسپنې د پروسس وړتيا لري.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اوونیزه آبادي
هفته‌نامه آبادی

# اخبار اقتصادی هفته

## زیان ۷۰۰ میلیون افغانی تجاران افغان درپی بسته شدن بنادر با پاکستان

در پی توافق آتش‌بس میان افغانستان و پاکستان، اتاق تجارت مشترک دو کشور تأکید می‌ورزد که باید هرچه زودتر بنادر تجارتی بازگشایی شوند تا از خسارات بیشتر به تجاران جلوگیری گردد. مسئولین این اتاق اعلام کرده که در پی بسته ماندن بنادر تجارتی میان دو کشور، حدود ۷۰۰ میلیون افغانی زیان مالی به تجاران افغان وارد شده است. به گفته مسئولین این اتاق، به دلیل مسدود بودن مسیرها، حدود ۵۰۰ موتر حامل میوه‌های تازه و سبزیجات که قرار بود به پاکستان صادر شوند، به‌صورت قسمی یا کلی فاسد شده‌اند. خانجان الکوزی، رییس اتاق تجارت مشترک افغانستان و پاکستان، در این باره گفت: «۵۰۰ کانتینر ما به‌کلی یا قسمی از بین رفته و بخشی از آنها را از سرحدات به جلال‌آباد و برخی بازارهای دیگر آوردیم و تقریباً به نصف نرخ فروختیم.» در کنار توقف کلی تجارت میان کابل و اسلام‌آباد، ترانزیت کالاهای افغانستان نیز متوقف شده و به تاجران اطلاع داده شده که تا اطلاع بعدی از بارگیری اموال خودداری کنند. از سوی دیگر، مسئولین اتاق زراعت و مالداری افغانستان با اشاره به اهمیت روابط اقتصادی میان دو کشور، تأکید دارد که باید زمینه‌های تازه‌ای برای گسترش تجارت و صادرات محصولات زراعتی فراهم شود. وسیم صافی، رییس هیأت عامل اتاق زراعت و مالداری، گفت: «خواست ما این است که سیاست و تجارت جدا باشد، زیرا در بین سکتور خصوصی است و انتظار ما این است که برای تجارت سهولت در نظر گرفته شود و برای محصولات ما اولویت داده شود تا محصولات به موقع صادر شوند.» در همین حال، برخی از رسانه‌های پاکستانی به نقل از مسئولین اداره عواید پاکستان گزارش داده‌اند که سالانه از چهار مسیر مهم تجاری – تورخم، خرلاچی، غلام‌خان و چمن – بیش از ۷٦٦ میلیون دالر واردات از افغانستان و بیش از یک میلیارد و ۵۴ میلیون دالر صادرات از پاکستان انجام می‌شود.

## روسي پانګوال افغانستان کې د برېښنا تولید او وېش پر پروژو پانګونه کوي

د افغانستان برېښنا شرکت خبر ورکړی، چې عمومي اجراییوي رییس ډاکتر عبدالباري عمر د روسیې سفارت اقتصادي اتشې او د روسیې هېواد برېښنا تاسیساتو جوړولو او تجهیزاتو تولید دولتي کمپنۍ او ددغه هېواد د اړوندو خصوصي کمپنیو له مسوولینو سره ناسته کړې ده. ډاکتر عبدالباري عمر په دې ناسته کې ویلي، چې افغانستان کې د برېښنا او برېښنايي تجهیزاتو تولید او تاسیساتو جوړولو برخو کې د پانګونې ګڼ فرصتونه شته او نورو برخو کې هر ډول اسانتیاوې رامنځته شوي دي. دغه‌راز یادو پانګوالو خرګنده کړه، چې د برېښنا تولید، د برېښنا د تجهیزاتو او تاسیساتو جوړولو په برخه کې یې ګڼو اسیايي او افریقایي هېوادونو کې پانګونې کړې دي، چې اوس غواړي د برېښنا تولید او وېش برخو کې افغانستان کې پانګونې وکړي. په ورته مهال د برېښنا شرکت عمومي اجراییوي رییس د یادو پانګوالو لیوالتیا وستایله او دوی ته یې د هر ډول همکارۍ ډاډ ورکړی دی.

## هرات کې یوه کارخونه ۷۸ ډوله درمل تولیدوي

د هرات ولایت په صنعتي ښارګوټي کې د «آرمین فارما» په نوم د درملو یو خصوصي تولیدي کارخونه ۷۸ ډوله درمل تولیدوي، چې د هېواد ۳۰ ولایتونو ته یې هم صادروي. د یادې کارخونې عمومي مدیر وویل، چې دغه کارخونه ۹ میاشتې وړاندې د ۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پانګونې سره په فعالیت پیل کړی او دا مهال د اړتیا وړ درمل تولیدوي. هغه زیاته کړه، که چېرې له بهرنیو هېوادونو ورته درملو واردات بند شي، دغه کارخونه چمتو ده، چې د بازار اړتیا ته په پام سره خپل تولیدات زیات کړي. نوموړي وایي، چې په دې کارخونه کې له ٦۰ زیات کارکوونکي په کار بوخت دي او تولیدېدونکي درمل یې د نړیوالو معیارونو مطابق دي. ورته مهال د هرات د صنایعو او کانونو خونې رئیس او د یاد ولایت د درملو پلورونکو د اتحادیې مشر محمد ناصر امین وایي چې د هرات په صنعتي ښارګوټي کې تولیدېدونکي درمل له نړیوالو معیارونو سره سم دي او د کورنیو اړتیاوو د پوره کولو لپاره مهم رول لري. د معلوماتو له مخې، دا مهال په ټول هېواد کې د درملو ۱۰۵ تولیدونکې کارخونې فعالیت لري، چې د داخلي اړتیاوو د پوره کولو ترڅنګ یې د خلکو لپاره د کار زمینه هم برابره کړې ده.



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اباډي اوونيزه
هفته‌نامه آبادی


## د صنعت او سوداګرۍ وزارت: افغانستان اوس مهال د اوسپنې سکتور کې پر ځان بسيا شوی

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسئولين وايي، افغانستان اوس مهال د ګول سيخ او نورو فلزاتو توليد برخه کې په ځان بسيا شوی او تېرکال يې په دې برخه کې پاکستان او ترکمنستان ته هم صادرات کړي دي . هاخوا بيا د افغانستان د اوسپنې ويلي کېدو ټولنې مسئولين وايي، نه يوازې دا چې د اوسپنې سکټور کې پر ځان بسيا شوي بلکې په ټولو ملي پروژو کې چې اوس مهال د حکومت له لورې رواني دي يا پلي شوې دي د کورني سيخ او فلزي توليداتو څخه پکې ګټه اخيستل شوې ده . يو شمېر صنعتکاران وايي چې په کورنيو پروژو او کور دننه جوړيدونکو ودانيو کې د کورني سيخ ګټه اخيستلو کې دوی ډاډ ورکوي چې د توليد کيفيت يې د سيمې له هېوادونو لوړ دی . دا په داسې حال کې ده، چې اوس مهال افغانستان کې د اوسپنې نږدې ۵۰ کارخونې فعاليت کوي، په دغو کارخونو کې تر ۵۰۰ ميليونه ډالرو پانګونه شوې او د فلزي توليداتو ټول ډولونه توليدوي.



# د کانونو سالم مديريت او اقتصادي ارزښت ته کتنه


**ليکوال:** امان الله حنيفي


## سريزه

افغانستان د خپل جغرافيوي موقعيت، موجودو کانونو او طبيعي زېرمو په درلودو سره په سيمه او نړۍ کې ځانګړی اقتصادي ارزښت لري. دغه قيمتي او د نړۍ په کچه نايابه او غني کانونه او طبيعي زېرمې د هېواد د اقتصادي پرمختګ لپاره هغه لويه قوه ده، چې سالم مديريت يې د صنعت د ودې، د صادراتو د زياتوالي، په ډېره لويه کچې د پانګونې د جذب، د مسلکي قشر د روزنې، هېواد ته د نوې او پرمختللې ټکنالوژۍ په انتقال، د زېربناوو په جوړولو، د کرنې په پرمختګ او همدارنګه په ميليونونو هېوادوالو ته د کاري فرصتونو په رامنځته کولو کې مهم او اساسي رول ادا کولی شي. د ترسره شوو څېړنو له مخې، د افغانستان کانونه او طبيعي زېرمې په ټريليونونو ډالرو ارزښت لري، چې مهم هغه يې اوسپنه، مس، المونيم، قلعي، سُرب، جست، سره زر، سپين زر، موليبدنوم، سلفر، شوکانې، ګچ ډبرې، کرومايټ، ليتيم، يورانيم، طبيعي ګاز، نفت او داسې نور دي. د دغه بډايه شتمنيو په را ايستل کېدو سره به نه يوازې زموږ هېواد له بې وزلۍ او اقتصادي ستونزو خلاص شي، بلکې په مختلفو برخو کې به د پام وړ پرمختګ وکړي. موږ په همدې مقاله کې د هېواد د کانونو او طبيعي زېرمو د سالم مديريت او اقتصادي ارزښت په اړه خبرې کوو.

## د افغانستان کانونه او طبيعي زېرمې

د افغانستان د کانونو او طبيعي زېرمو په اړه ډېرې مطالعات او څېړنې د پخواني شوروي اتحاد لخوا ترسره شوي او له هغه وروسته وخت ناوخت د امريکا متحده ايالتونو هم په ځينو برخو کې بياځلې او يا هم نوې سروې‌ګانې ترسره کړې دي. د پخواني شوروي اتحاد لخوا ترسره شوې څېړنې ښيي چې افغانستان د سرو زرو، سپينو زرو، پلاتينيم، اوسپنې، يورانيم، کوټ، تاتينيم، المونيم، ډبرو سکرو، مسو، طبيعي ګاز او نفتو پراخې زېرمې لري، چې د مسو ارزښت يې تر نورو هغو ډېر دی. ځکه د نړۍ په بېلابېلو برخو کې د دغه فلز زېرمې مخ په خلاصيدو دي او د افغانستان لا تراوسه پر خپل ځای پاتې دي. د ترسره شوو څېړنو له مخې، افغانستان کېدای شي چې د ليتيمو د موجوديت له امله پر دويم سعودي عربستان باندې بدل شي. دا ځکه چې ليتيم د ګرځنده ټيليفونونو او کمپيوټرونو په بطريو او د الکترونيکي نقليه وسايطو لپاره د انرژۍ په تأمين کې کارول کيږي، چې نننۍ نړۍ ورته تر بل هرڅه ډېره اړتيا لري. نړيوالې څېړنې وايي چې ليتيم هم د تېلو په شان په چټکۍ سره په يوه ستراتيژيک محصول بدلېدونکی دی؛ ځکه ليتيم تسليحاتي کېدای شي چې په راتلونکي کې په ډېرو برخو کې د موټر له توليده نيولې د روبوټونو او د موټر تر ماشينونو پورې ترې استفاده وشي. د موجودو علمي موندنو پر اساس، ليتيم په بطريو کې تر استفادې ورهاخوا، په هستوي ټکنالوژۍ کې هم کارول کيږي او د سپک وزن او ډېر حرارت له کبله د الوتکې په بدنه کې له المونيم او مسو سره يوځای ترې استفاده کيږي.

د ډبرو سکرو په برخه کې لومړنۍ څېړنې ښيي چې افغانستان په ۱۲ ولايتونو کې ۸۰ د ډبرو سکرو کانونه لري چې مجموعي زېرمه يې درې ميليارد مترمکعب او يا هم شاوخوا ۴۰۰ ميليونو ټنو ته رسيږي. د افغانستان له ختيځ ولايت بدخشان څخه رانيولې تر لوېديځ ولايت هرات پورې د ډبرو سکرو تقريباً ۷۰۰ کيلومتره اوږد او ۴۰ کيلومتره سور لرونکی رګ تر خاورو لاندې پروت دی، چې لا هم نه دی سپړل شوی. پر مسو، ليتيمو او ډبرو سکرو سربېره افغانستان د نفتو، طبيعي ګازو، اوسپنې، قېمتي ډبرو، سرو او سپينو زرو او نورو بېلابېلو قيمتي منرالونو او صنعتي فلزاتو لويې او کوچنۍ

زېرمې لري چې نړيوالو يې ټوليز ارزښت تر دوه ټريليونه ډالرو زيات اټکل کړی.

## د هېواد د کانونو او طبيعي زېرمو اقتصادي ارزښت

افغانستان د طبيعي سرچينو په برخه کې يو بډايه هېواد ګڼل کېږي. اقتصاد پوهان وايي، که افغانستان خپل کانونه او طبيعي زېرمې په مسلکي او قانوني ډول استخراج کړي، پرته له شکه چې اقتصاد به يې پر خپلو پښو ودرېږي. د کانونو د استخراج له لارې به په ميلياردونو افغانۍ عوايد ولري او له عوايدو به د لويو زېربنايي پروژو په پيل او بشپړولو کې ګټه واخلي. په دې ډول به په هېواد کې بيارغونه او ابادي وشي او هم به د بېکارۍ کچه له منځه لاړه شي.

له نېکه‌مرغه د اسلامي امارت په راتګ سره د کانونو د استخراج په برخه کې همدا اقتصادي پاليسي غوره شوې ده. اوسمهال د هېواد په کچه ټول کوچني، متوسط او د لوی مقياس کانونو استخراج په قانوني او مسلکي توګه دوام لري. د کانونو عوايد په ډېر شفاف ډول بيت‌المال ته جمع کېږي او بيا د يو منظم ميکانيزم له لارې د لويو زېربنايي پروژو په بيارغونه کې په مصرف رسېږي.

د کانونو او طبيعي زېرمو د استخراج په برخه کې د يو منظم ميکانيزم په رامنځته کېدو سره کورنيو او بهرنيو شرکتونو په ميلياردونو ډالره پانګونه کړې ده. ښه بېلګه يې په دې وروستيو کې د ۴۱۳ ميلياردو افغانيو په ارزښت د يوشمېر بهرنيو شرکتونو له لوري د سيمنټو د استخراج او همدا راز د ميلياردونو ډالرو په ارزښت د طبيعي ګازو او نفتو د استخراج په برخه کې د کورنيو او بهرنيو شرکتونو پانګونه ده. اوسمهال له دې لارې په مياشتني ډول د دولت خزانې ته په ميلياردونو افغانۍ عوايد جمع کېږي او په عين وخت کې يې لسګونو زرو هېوادوالو ته د کار زمينه هم برابره کړې ده. دې چارې د هېوادوالو د ژوند پر سطحه مستقيم مثبت اغېز کړی.

نړيوال جيولوجيکي کارپوهان په دې باور دي، چې يوازې د ليتيمو کانونو استخراج افغانستان ته په ميلياردونو ډالره پانګه جوړوي او افغانستان بهرنيانو ته د مرستې لاس غځولو پر ځای پر يو شتمن او خپلواک اقتصادي هېواد بدلولی شي. که د هېواد تر ځمکه لاندې طبيعي کانونه په مسلکي ډول استخراج او د هېواد دننه پروسس شي، په يوه لسيزه کې به د سيمې پر بډای هېواد بدلېدای شي.

د کانونو او پټروليم وزارت د معلوماتو له مخې، کوم کانونه او د طبيعي زېرمو استخراج چې په قرارداد ورکړل شوي، مهم او اساسي شرط پکې دا دی چې بشپړ پروسس به يې په هېواد کې دننه ترسره کېږي. د بشپړ پروسس په صورت کې به له يوه لوري په هېواد مسلکي او تخنيکي کارخونې جوړې شي او له بل لوري به د وخت په تېرېدو سره افغان کدرونه روزنه ترلاسه کړي. د مسلکي قشر درلودل د هېواد له اقتصاد او په ښه ډول د ملي شتمنيو له مصرف سره د پام وړ مرسته کوي. د کانونو او طبيعي زېرمو استخراج د زيربناوو د پراختيا په برخه کې هم مهم فرصتونه رامنځته کوي. د کانونو او طبيعي زېرمو د استخراج لپاره د سړکونو، پلونو، برېښنا او ټرانسپورټ شبکو ته اړتيا ده. د دې زيربناوو پراختيا نه يوازې د کانونو لپاره؛ بلکې د هېواد د عمومي اقتصادي ودې لپاره هم ګټور دي.

## د هېواد د کانونو او طبيعي زېرمو سالم مديريت

د کانونو او طبيعي زېرمو د مسلکي او قانوني استخراج لپاره اړينه ده چې حکومت يوه ښه مديريتي پاليسي ولري څو له دې طبيعي منابعو څخه په سم ډول ګټه پورته کړي. دا د قانون د تطبيق، د شفافيت زياتوالي، د بهرني پانګونې جلبولو او د کانونو د استخراج پروسې ته په مسلکي ډول دقت کولو له لارې ترسره کېدای شي.

له نېکه‌مرغه اسلامي امارت دې مسلې ته پوره دقت کړئ، کانونو او پټروليم وزارت د منرالونو د اولويت بندۍ سند او د ستر مقياس معدني موادو د پروسس په موخه د معدني ساحو د ځانګړي کولو طرحه جوړه کړې ده. د دغه طرحې له مخې به هغه نايابه او قيمتي کانونه چې د نورو مهمو معدني موادو په پروسس کې ورته اړتيا ليدل کېږي، په قرارداد نه ورکول کېږي؛ بلکې هغه ساتل کېږي څو د امکاناتو برابرېدو په صورت کې په هېواد کې دننه د نورو معدني موادو د پروسس پرمهال ترې استفاده وشي.

د اسلامي امارت په بياځلې حاکمېدو سره يو پياوړی واحد نظام رامنځته شوی، په ټول افغانستان کې يې سرتاسري امنيت ټينګ کړی، د غير قانوني کيندنو مخنيوی يې کړی او د فساد پر وړاندې يې جدي مبارزه پيل کړې. اسلامي امارت د زورواکانو د قدرت جزيرې له منځه وړې او په ټولو لويو او کوچنيو کانونو يې حاکميت ترلاسه کړی. هر لوی او کوچنی کان د ازادې داوطلبۍ له لارې استخراج ته وړاندې کېږي او ترلاسه شوي عوايد يې په شفاف ډول د بيت‌المال حساب ته جمع کېږي. د افغانستان اسلامي امارت او په ځانګړي ډول د کانونو او پټروليم وزارت هڅه کوي چې کانونه په مسلکي ډول استخراج کړي، د استخراج لپاره يې له نوو عصري ماشينونو استفاده کړې ده او کانونو ته د غځېدلو لارو بيارغونه پيل شوې. کانونو او پټروليم وزارت کوښښ کوي چې معدني موادو ته نړيوال بازارونه پيدا کړي، چې ښه بېلګه يې د ډبرو سکاره دي. په دې وروستيو کې د افغانستان ډبرو سکرو پاکستان، چين، ايران، هند او ترکيې ته لاره پيدا کړې. د





# ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنیزو مسایلو په برخه کې
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت خبري اوونیزه

اباديِ
هفته نامه آبادی


روان لمریز کال د اتو میاشتو پر مهال د ۶۵ میلیونه ډالرو په ارزښت ۶۵۴ زره ټنه ډېرو سکاره بهر ته صادر شوي او دغه لړۍ په ښه ډول دوام لري.

د افغانستان اسلامي امارت د کانونو داوطلبۍ په پروسه کې د فساد مخنیوي په موخه د کانونو پر قانون له سره غور وکړ او په هغه کې یې لازم تعدیلات راوستل. کانونو او پټرولیم وزارت د ټولو هغو کانونو ورکړه ببرته مرکزي کړې ده چې د تېرې ادارې ولایتي ریاستونو یې د استخراج جواز ورکړی و.

د کانونو د ساتنې او استخراج په برخه کې د سالم مدیریت، د استخراج له پروسې منظمې څارنې او د داوطلبۍ په پروسه کې د فساد جرړو ایستلو پر مټ اسلامي امارت توانېدلی چې د ملي بودیجې ډېره برخه له دې لارې تمویل کړي.

د افغانستان اسلامي امارت له لوري په قانوني ډول د کانونو په استخراج سره ډېرو هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شوې، غیر قانوني کان کیندونکي قانوني چوکاټ ته داخل شوي او هرې پروسې منظمه بڼه خپله کړې. د کانونو د کیندنې، داوطلبۍ، بشپړ امنیت او له دې لارې د عوایدو راټولولو پروسې پر مټ به د څو کلونو په تېرېدو سره افغانستان په ډېرو برخو کې خودکفایۍ ته ورسېږي او د یو خپلواک پیاوړي اقتصادي نظام څښتن به شي.

## پایله

د افغانستان کانونه او طبیعي زېرمې د هیواد د اقتصادي ودې لپاره یو مهم سکټور بلل کېږي. په مسلکي او قانوني ډول د دغه سکټور استخراج د دولت خزانې ته په میلیاردونو افغانۍ عواید برابروي، دغه عواید د لویو زېربنایي پروژو په پیل او بشپړولو کې اساسي رول ترسره کوي، د هېواد د صادراتو کچه ورسره لوړېږي او په ورته وخت کې لسګونو زرو هېوادوالو ته کاري فرصتونه برابروي.

له نېکه‌مرغه اوسمهال په ټول هېواد کې د کانونو او طبیعي زېرمو استخراج قانوني بڼه خپله کړې او په ډېر جدیت سره یې سالم مدیریت ترسره کېږي.



## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابل په شهزاده سرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ۶۶,۳۰؋ | ۶۶,۳۵؋ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ۲۲۵؋ | ۲۲۵؋ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ۰,۶۲؋ | ۰,۶۳؋ |
| ۱ | اروپایي یورو | ۷۶,۹۰؋ | ۷۶,۹۶؋ |
| ۱ | روسي روبل | ۰,۸۱؋ | ۰,۸۱؋ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ۷۵۶؋ | ۷۵۶؋ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ۸۸,۳۴؋ | ۸۸,۴۰؋ |
| ۱ | سعودي ریال | ۱۷,۶۸؋ | ۱۷,۶۹؋ |
| ۱ | اماراتي درهم | ۱۸,۰۵؋ | ۱۸,۰۷؋ |
| ۱ | چیني ین | ۹,۳۱؋ | ۹,۳۲؋ |

